# د خوشحال خان خټک د شعري ترکيبونويوه تحقيقي جائزه

# An exploratory review of lyrical compositions in Khushal Khan Khattak's Poetry.

Dr. Badshah.i.Room[1] Muhammad Naqeeq[2]


## ABSTRACT

*Poets consciously try to add literal as well as meaningful splendor to their poetry. Considering this, the poets combine words with each other in their poetry and create new words. Combing words like this is called 'literary technique'. In addition, the purpose of poetry is to explore the words and to adhere and expand their meanings. In this regard, Khushhal Khan khattak has contributed a lot by combining words in his poetry. Because of this, besides his verbatim beauty, spiritual depth has also been created in his poetry. In this article, the literary techniques regarding combination of words in Khushal Khan's poetry have been reviewed, so that research students can benefit from it, enabling them to gain awareness of the said aspect of khushal khan khattak's poetry.*


Key words: Poets, literal and meaningful beauty, creation of words, literary technique, khushal khan khattak, combine words, verbatim beauty, and spiritual depth.

[1] Associate Professor, Department of Pashtu, University of Malakand

[2] PhD scholar, Department of Pashtu, University of Malakand


Volume 7 | Issue II | July – December 2022

خو شحال خان خټک د پښتو ادب هغه نابغه شخصیت دے چې په خپل ذات کښې یو انجمن دے ـ ادبي کار او زیار ئې نه یواځې دا چې د معیار په تله کره او پوره دے بلکې نزدې نزدې د ادب په واړه مېدانونو کښې د یادوني وړ داسې اثار پریښودي دي چې په ځائے پرې ویاړ کېدے شي ـ بیا په تېره تېره د خوشحال خان خټک دیوان د داسې ملغلرلو سمندر دے چې د ښېرني سره سم نوي نوي رنګونه او خوندونه رابرڅیره کوي ـ

د خوشحال خان بابا دیوان د علم، دانش، تاریخ، سیاست، عمرانیاتو، جغرافیائي وغیره سره سره د صنائع او بدائع هم یو پوره جهان لري چې پکښې تجنیس، عکس، لف ونشر، ایهام، تلمیح، تضاد، حسن تعلیل، غزل مسلسل، تکرار او داسې نورې غوره نمونې په لاس راځي ـ خو دلته به په لاندېنو کرښو کښې د خوشحال خان خټک د کلام د ترکیبونو نه ځېني نمونې راغونډوو ـ

ژوندی ژبه د وخت سره سره دا ارتیا لري چې د نورو ژبو نوي ټکي راخپل کړي او داسې ژبه نوره فراختیا وموومي ـ په دي طریقه یوه ژبه د وخت د نوؤ غوښتنو سره سیالي کولے شي اود ویونکو علمي ضرورتونه پوره کولے شي ـ په دي لړ کښې د اشتقاق او ترکیب کردار لا پیاوړے دے ـ په اریائي ژبو کښې د لفظونو جوړښت څنګه کیږي، په دي حواله پوهاند صدیق الله ریښتین لیکي:

> " لکه چې څرګنده ده په په هندو ژرمانیک ژبو یعني آریایي ژبو کښې د الفاظو جوړښت په درې طریقو رامېنځ ته کیږي:
>
> (الف) د پسینه ؤ (لاحقو) د ورزیاتولو په وسیله لکه : خټګر، زرګر
>
> (ب) د سرینه ؤ (سابقو) د ورزیاتولو په وسیله لکه: ناکردي، ناخوالي

(ج) د دوو خپلواکه کلمو د ګډون
په وسیله لکه: سپین سترګے، سر
کوزے" [1]

پښتو هم چونکه یوه لرغوني اریائي ژبه ده او ځېنې ژبپوهان ئې د اریائي ژبو مور ګڼي ځکه نو د لفظونو جوړښت پکښې په بره دريځ واړو طریقو/لارو سره کیږي او ئې لمن پراخيږي ـ

دلته زمونږ موضوع ترکیب ده ـ نو ترکیب د ورانديې نه موجود د دوو ټکو یو ځاے کیدو په نتیجه کښې جوړيږي ـ چې بیا هغه توري ځانله ځانله معنې نه ورکوي ـ بلکې د ترکیب شوي لفظونو نه نوي توري جوړوي ـ او نوې معنې ورکوي ـ ښاغلے ډاکټر سهیل بخاري مرکب داسې تعریفوي:

ژبارړه: ''د دوه مختلف ټکو مجموعې ته مرکب وائي ـ خو کله د مرکب دواړه ټکي معنې لري او کله یو ټکے د معنې او بل بے معنې یعنې محمل وي ـ دغه د معنې په لحاظ د مرکب دوه قسمونه وي یعنې پوره معنې والا ترکیب چې دواړه ټکي ئې معنې ورکوي او کله جزوي معنې والا چې یو ټکے ئې د معنې او بل محمل وي ـ'' [2]

لکه څنګه چې ذکر اوشو چې د خوشحال خان خټک شاعري د لسانیاتو (ژبپوهنې) په حواله هم ښه مړه ده او بیا په تېره تېره د نوو خیالونو د راوړلو تر څنګ ئې نوې ترکیبونه په داسې خوند او هنر په خپله شاعرۍ کښې ځائے کړي دي ـ لکه په ګوتمو کښې غمې ـ ښاغلې چې کوم تراکیب راوړي دي ـ هغه په لاندینو کرښو کښې د لنډې پېژندګلو سره بیانولے شي ـ

**١ ـ اسم او اسم**

دا هغه مرکب وي چې دواړه ټکي ئې نومونه وي او د دې نه یو بل لفظ په وجود کښې راغلے وي ـ

لکه ، چرګ بانګ، اینځر ګل او نور

د خوشحال بابا د شاعرۍ نه مثالونه:

نسکور:

یو عجب د مئیو جام دي ساقي راوړو

خداوند ئې په دا مېنځ کښې نسکور مۀ کړه ۔ [3]

مېږتون :

ستا په غم کښې مې ارام له زړۀ بیرون شۀ

د غرڅه غوندې مې خوب په مېږتون شۀ ۔ [4]

## ۲ ۔ اسم او فعل (Noun + Verb)

کله یو تکې اسم او بل فعل نو بیا د هغې ترکیب داسې جوړیږي لکه جاروکښ، سر تېرے، او نور

د خوشحال خان د کلام نه مثالونه:

اوبو وړے:

د دریاب سره دریاب وي یو ځو دخته

بیا په هر لوري پراته وي اوبو وړي ۔ [5]

سینه چاک:

لړ گفتار ډیر ئې کردار په خاموشی کښې

د غنچې غوندې خولۀ پوره سینه چاک ۔ [6]

سینه یخ :

د یاری په کاروبار کښې فکر اوکا

چې رانۀ شي د بدانو سینه یخ ۔ [7]

رنگ زبیخلي:

د خوشحال غوندې په عشق کښې

نشته نور په رنگ زبیخلي ۔ [8]

## ۳ ۔ اسم او صفت

په دي قسم مرکب کښي اسم او اسم صفت يو نوے ترکيب مېنځ ته راوړي، لکه پے مخے، کلک سترگے او نور

د خوشحال خان ختک د شاعری نه مثالونه:

سر نگون:

رقيبان به سر نگون د غمه پرېوزي

که په خوشه د خپل يار درومي محبوب ـ [9]

عنبر پاشه:

په دوه زلفو عنبر پاشه

په دوه سترگو مى پرسته ـ [10]

دل آويز:

که له دله ئي شلوم شلولے نهٔ شي

د دلبرو يارانه وي دل آويزه ـ [11]

**۴ ـ اسم صفت او اسم صفت**

د مرکب په دي قسم کښي دواړه خپلواکه توري په بنيادي ډول باندي اسم صفت وي خو چي کله د ترکيب په بنياد وتړلے شي نو يو تکے رامخي ته شي ـ لکه قدوقامت، لر او بر داسي نور ـ

د خوشحلا خان ختک د کلام نه مثالونه

لر او بر:

باز د جال کونتره اوينى پرې ورشي

تېوسي باندي پېرې کا لر او بر ـ [12]

شور و شر:

لا يو شور مي ختم نهٔ وي چي بل راشي

پېدا شوے زهٔ په ورځ د شور و شر يم ـ [13]

### ۵ ـ ترښتي مرکب

دا هغه مرکبات دي چې د عطف د حروف په وسیله د یو بل سره ترلے شي، په دي کښې څه د "و" (واو) په ذریعه لکه خاروخس، قدوقامت، او نور او ځېني د (زیر) په ذریعه جوړیږي ـ لکه اهلِ علم، جانِ جگر،

د خوشحال بابا د کلام نه مثالونه:

عنبر و معنبر:

په خرام خرام راځه چې بوئې ئې اخلم

اوړدي زلفې په عنبرو معنبر ـ [14]

چاهِ زنخ:

خوار خوشحال پکښې پرېوتے ختے نهٔ شي

څه بلا ده د شهی چاهِ زنخ ـ [15]

خط وخال:

مخ ئې فکر د نسرین راځخه یوړ

خط و خال ئې مشکِ چین راځخه یوړ ـ [16]

### ۶ ـ تکراري مرکب

څنګه چې د نوم نه ښکاره ده ـ په تکراري مرکب کښې یو تکے بیا بیا استعمالولے شي چې مقصد ئې خبره کښې زور او تاکید پېدا کول وي ـ دلته دا خبره هم د ذکر وړ ده چې په تکراري مرکب کښې د هر تکي خپل اصل حالت په ځائے ساتلے شي ـ په دې لړ کښې ډاکټر سهیل بخاري لیکي:

ژباړه: زمونږه سره چې څنګه د یو
اواز د دوه واري وئیلو رواج دے کوم
ته چې تشدید وئیلے شي دغه شان یو
تکے هم دوه ځل وائیو ـ لکه څنګ چې
وړاندې ذکر شوے دے چې تشدید په
آریائي ژبو کښې نه لیدل کېږي فقط

په عربي (سامي) او هندوستاني ژبو
کښې اوريدل کېږي ـ خو يو ټکے د
دوه ځله وئيلو روايت په عربی کښې
نشته دے او دا صرف هندوستاني ژبو
سره خاص ده ـ او ډير عام هم دے ـ
زمونږ په ژبو کښې د ټکي د تکرارولو
څو مقصدونه وي ـ [17]

د خوشحال خان خټک په شاعرۍ کښې د تکراري ترکيبونو يو شمېر نمونې په لاس راځي ـ چې دلته تري څو مثالونه ذکر کولے شي ـ

کاتۀ کاتۀ:

په کاتۀ کاتۀ زړۀ لا درته تاؤ تاؤ شي

د لرګے پشتي په غاښ کړي ريز مريز ـ [18]

يادونه: په دې ذکر شعر کښې تاؤ تاؤ هم يو تکراري ترکيب دے ـ

تلِ تلِ:

که د سر ملاحظه کړے غواص مۀ شه

ملغلرې په درياب کښې تلِ تلِ ـ [19]

## ۷ ـ منځتاني مرکب

د منځتاني مرکب جوړښت په دا ډول وي چې د يوشان تورو ترمېنځ يو حرف راځي چې د دې سره يو نوې ترکيب په وجود کښې راځي ـ لکه سراسر، مخامخ، برابر او نور ـ

د خو شحال خان خټک د شاعرۍ نه مثالونه:

برابر:

لا به کله زما خوار طالع مدد کا

چي دا ستا سترګي په ما شي برابر ـ [20]

ريز مريز:

په کاتۀ کاتۀ زړۀ لا درته تاؤ شي

د لرګی پشتي په غاښ کړي ريز مريز ـ [21]

لکه څنګه چي وړاندي واضحه شوي ده چي د خوشحال خان خټک ديوان د ښکلا، علميت، فطرت نګارى، ژبپوهني او داسي نورو موضوعاتو يوه درنه خزانه ده ـ ځکه نو د خوشحال په ديوان کښي داسي نور يو شمېر ترکيبونه هم په خوند خوندځاے کړے شوي دي ـ

د يادوني وړ ده چي د ذکر قسمونو نه پرته د ترکيبونو نور قسمونه هم شته لکه صوتي مرکبات، د مستعارو ژباړه ترکيبونه او داسي نور چي د ژبو په پراخی کښي لوے لاس لري ـ

حوالې:


1 ـ رښتين، صديق الله، پښتو ګرائمر، خپرونکي يونيورستي بک ايجنسي پېښور، يونيورستي ايجنسي پېښور، ١٩٩۴ کال ،مخ ۴٠۴

2 ـ سهيل بخاري، ډاکټر، تشريخي لسانيات، ، جعفر رضا ـ اے ، ١٠٣ سيکټر ١١بی، نارته کراچی، کال ١٩٩٨ء، مخ ١۴٨

3 ـ خټک ،خوشحال خان، ديوانِ خوشحال خان خټک، انتخاب اقبال حېران،زيب آرټ پبلشرز پېښور، کال ٢٠١۶ء، مخ ٩٨

4 ـ هم دغه اثر،مخ ١١٠

5 ـ هم دغه اثر، مخ ١٢۴

6 ـ هم دغه ، اثرمخ ۶٠

7 ـ هم دغه اثر ـ، مخ ٣٠

8 ـ هم دغه اثر، مخ ١٢٣

9 ـ هم دغه اثر،مخ ٢١

10 ـ هم دغه اثر، مخ ۵١

11 ـ هم دغه اثر ،مخ ۴١

12 ـ هم دغه اثر، مخ ١٣

13 ـ هم دغه اثر، مخ ۴١

14 ـ هم دغه اثر، مخ ٣٠

15 ـ هم دغه اثر، مخ ٢٩

16 ـ هم دغه اثر، مخ ۴٩

17 ـ تشريخي لسانيات از ډاکټر سهيل بخاري، مخ ١۶۵، ١۶۴

18 ديوانِ خوشحال خان خټک، انتخاب اقبال حېران، ، مخ ۶٢

19 ـ هم دغه اثر، مخ ٢١

20 ـ هم دغه اثر، مخ ۴١

21 ـ هم دغه اثر ، مخ ۵١